ولی احمد نوری

۲۰۱۷/۰۱/۲۰

# دوه ښکلي پښتو غزل

د ګران افغان شاعر ښاغلي مصطفی پسرلی په قلم




مصطفی پسرلی

## سر به مې ور کړمه په مينه
## د وطن په لار کې

د زړه په وينـو د وطن هره ښکلا ليکمه

قلـم پـه لاس د علـم پـوهـې زه رنا ليکمه

حال ته مې وګوره چې روغ که ليونی ښکاريږم

شـوم لـيونی هـم د ژړا هـم د خنـدا ليکمه

د مرګ او ژوند دغې جګړې ډېر کړولی يمه

د هـر ظـالـم د ظلـم نښې پـه رينتيا ليکمه

لار ځان ته جوړه کړم خو ګام پرې اخيستلی نشم

د بـې وسـی دغـې عـالـم تـه واويـلا ليکمه

ټول عالمونه پخپل عيش او خپل عشرت لګيا دي

زه په تيارو کې داسې پروت خپله ګناه ليکمه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

سر به مي ور کړمه په مینه د وطن په لار کي

زه خپلي میني ته اوس نـوم د انتها لیکمه

** * **

د حق ناحق خبري مـه کوه پښتون ویده دی

د خوشال خان بابا بچو هغه جنون ویده دی

د ځان لپاره زه دا ستا سترګې کتلي نـه شم

د سترګو شور کي دې زما د زړه سکون ویده دی

دلته د مېني محبت خبرې مه کړه اشنا

دلته د میني کرکه کیږي دا مضمون ویده دی

ددي وطن په خلکو څه وشول او څه تیریږي؟

ټوټه ټوټه، پرهر پرهر بې هر پاڅون ویده دی

په مونږ دا څو لسیزی کیږي چی تورتم دېره دی

ژوندون تیریږي په تورتم کي سباوون ویده دی

نور پسرلی د یوې خبرې هم ارمان نه کوي

دلته یو چا نفاق راوړی دی او یون ویده دی

** * **